کـاتب پاځـون

دښار په ستدیوم کې

د طنزی لوبو

کـــال : ۱۳۷۶

دښارپه ستديوم کې

د طنزي لوبو



PROPERTY OF ACKU 7007

PROPERTY OF ARIC Established 1959

کاتب پاڅون

کال: ۱۳۷۶

د کتاب نوم : د ښار په ستديوم کې
خبرپال : سرگردان باشي.
ليکوال : کاتب پاڅون
د کمپيوتر سمبالوونکی: مجيب الله
د چاپ کال : ميزان ۱۳۷۶ هـ ش
خپرونکی : دانش کتاب پلورنځی، ډهکی نعلبندی، قصه خوانی بازار

بسم الله الرحمن الرحيم

شاباس او کورودانی

د بنجاره هتې، دولتی موتر، سړئ څنګه ښځه شو؟، پندونه او خوندونه، دیګونه او شعرونه او د بنار په ستدیوم کې کتابونو د خپرېدو په فائنل لوبه کې چې د اسدالله ساپی او حسن پاوند تر منځ پیل شوی وه، د همدی ستدیوم په ډګر کې مساوی پای ته ورسیده.

زه محترم استاد محمدحسن پاوند صاحب ته له دې کبله شاباس او کورودانی وایم چې د پورته ډګر شویو تولو کتابونو پرمخ د کښورۍ طرحه ئې د لوبی میدان ته راویستلی وه، او محترم ورور ساپی صاحب خو ځکه د شاباس او کورودانی وړ ډئ چې د دغې لوبې تمویلوونکی ؤ.

د خپروونکی یادښت

دانش کتابخانه تل دا هڅه کوی چې وخت په وخت خپلو درنو هیوادوالو او د کتاب مینه والو ته ښه او معیاری کتابونه وړاندی کړی، ځکه چې زمونږ په گران هیواد کې څو کلنی جگړی له ځان سره هرڅه ورانې ویجاړ او گډوډ کړی. څرگنده خبره: ده چې په هیواد کښې مطبعه، کتابتون، کتاب پلورنځی هرڅه د څو تنو د ..... قربان شوی. زه خپلې خبرې اوږدول دلته نه غواړم، د محترم کاتب پاڅون صاحب پندونه او خوندونه، دولتی موټر، سړی څنگه ښڅه شوه؟ دیگونه او شعرونه، د بنجاره هتی، دښار په ستدیوم کې، دا د هغو خورو طنزی مجموعو نومونه دی چې هم خوندلری او هم هغه دچا خبره رنگ. پخپله یې وگوری او پخپله فیصله وکړی دا تاسی او دا د محترم کاتب پاڅون صاحب طنزونه. د الله په امان.

اسدالله ساپی

د دانش کتابخانی منتظم

څو خبرې

ژوند په خپله یوه لوبه ده. په دې لوبه کې میلیاردونه لوبغاړي برخه لري، خو بړۍ او د ګټلو چانس د ډیرو لوبغاړو او تیمونو په برخه کیږي.

د لوبو تاریخ د نن او پرون خبره نه ده، بلکې د ځمکې په خاورین لوبغالي (ستدیوم) کې د بنیادم د رامیدان ته کیدلو له وخته بیا تر ننه پورې دوام لري. د دغو لوبو د مسابقو راپور تاژونه او نتایج د مورخینو له خوا څه ناڅه په سپورتي رسالو (تاریخونو) کې خوندي شوي دي، خو مور د تیرو لوبو په نتایجو پسې څراغ نه را اخلو، بلکې غواړو چې کومې لوبې همدا نن روانې دي د دغو یو ورځې غوندې جاج واخلو.

څو کلونه وړاندې آشپز باشي د لوبو له کتوې (دیګ) څخه دوه څمڅې راویستلې دې چې دده په قول د یوې څمڅې لوبې هغه لوبې دي چې لوبغاړي یکې خولې تویوي، او په بله څمڅې کې یې هغه لوبې راویستلې دي چې د خولو په ځای د لوبغاړو او حتی د نندارې کوونکو وینې تویږي.

د مثال په ډول د دوهمې څمڅې لوبې چې د خولو په ځای وینې یکې تویږي له دوه لسیزو راپدې خوا زمور په هیواد کې جریان لري، خو د نتیجې په لحاظ یې تر اوسه لا ګټونکی نه دئ مالوم.

دا لوبه په ۱۳۷۱ هـ ش کال کې نوی دور ته ورداخله شوه او د بیلا بیلو تیمونو تر منځ د پرنډو راکتونو د توغولو تر حده ورسیده.

هغه نندارچیان چې په ستدیوم کې له مجبورې ورځې د لوبې نندارې ته ناست وو د سرونو بچ کولو په خاطر له خپل ستدیوم (افغانستان) نه راوتښتیدل. اوس دا څو کاله کیږي چې لوبغاړي په خپلو کې دغې خطرناکې لوبې ته دوام ورکوي، خو تر ننه پورې نه کوم تیم پکې فاینل ته راووت او نه یې هم د لوبې کپ تر لاسه کړئ دئ.

آشپزباشي چې له مهاجرو نندارچیانو څخه یو تن دئ، اوس په پیښور کې سرګردانه ګرځي او دوستان، آشنایان ورته سرګردان باشي خطاب کوي.

پخوانی آشپزباشي او اوسنئ سرګردان باشي چې د لوبو ډیر شوقی دئ، له سهاره تر ماښامه د پیښور ښار په ستدیوم کې د لوبو په نندارې بوخت وي او دهغو لوبو نندارې کوي چې ده ورته کوم تعریف په لومړي څمخي کې راویستلی ؤ.

څه موده وړاندې د لوبو یو بل شوقی (اسدالله ساپی) په ستدیوم کې ورسره مخ شو او له سرګردان باشي څخه یې وغوښتل چې له دې وروسته د دغو لوبو خبرونه، راپورتاژونه او مرکې وخت ناوخت برابرې کړي څو د لوبو نورو شوقیان هم تر خبر شي.

همدا د ساپی صیب هڅو نه ده چې اوس سرګردان باشي کوڅه په کوڅه او میدان په میدان د لوبو څارنه کوي او خپل مشاهدات دغه خبرې آژانس ته رالیږي. رائې چې تر څو د افغانستان په ستدیوم کې په لوبو اخته تیمونه په خپلو کې ګډونکي او بایلونکي مالوموي، مور او تاسې به د پیښور په ستدیوم کې د ځینو لوبو نندارې وګورو او د سرګردان باشي صیب ثبت شوی ګذارشات به د کاغذ په پرده ووینو.

لومړی لوبه

د دالرې منډې په تورنمنت کې چې افغانی او کالداره (روپۍ) د ځغستلو فاینل ته ورتلی وو، افغانی په یو دالر کې دیرش زره متره منډه ووهله او لومړۍ مقام یې وګاټه.

همدا راز کالدارې په یو دالر کې دری څلویښت اعشاریه شل متره منډه ووهله او په راتلونکو لوبو کې یې د ګډون چانس تر لاسه کړ.

دوهمه لوبه

په هوایی ډزو کې د نښې ویشتلو هغه لوبه چې د پیښور په ښار کې د هرې جمعې په ورځ ودونو کې تر سره کیږی، په دې اونۍ (هفته) کې د غریب آباد او کوزتهکال ټیمونو لومړۍ او دوهم مقام ترلاسه کړ.

زمونږ سپورتی خبریال سرګردان باشی وایی چې د غریب آباد ټیم په هوایی ډزو دري او د کوز تهکال د ټیم په ډزو دوه تنه لګیدلی دی.

دریمه لوبه

د غیږې نیولو او پهلوانۍ هغه لوبه چې د یو تن تنخا خواره د کولو په ستدیوم کې د وچې ربړې دوډۍ او متکورو آلوګانو ترمنځ روانه وه، مساوی سرته ورسیده، خو په زور وهلو کې د لوبې د میدان توشکونه له کاره ووتل او په هسپتالونو کې د بیا ترمیم لپاره د نوبت انتظار باسی.

څلورمه لوبه

د ښاري او لینی بسونو د مالکانو او سپرلیو (سورلیو) ترمنځ د پیړی کشولو هغه لوبه چې ریفری توب یې د ترانسپورت وزارت کاوه، له ډیرو زورونو وروسته د بسونو مالکانو وګټله.

په دې هکله د سورلیو د تیم یو تن غړی وویل:

- زموږ پښې هغه وخت وښویدې چې ریفری د بسونو د مالکانو په غلطی سترګې پټې کړې.

پنځمه لـــوبه

نقلی او اصلی لوبه نن سبا د ښار په ستدیومونو کې بې شمیره نندارچیان لري او هره ورځ په بیلو بیلو ډولونو دا لوبې روانې وی، خو په دې ورځو کې د کارخانو د مارکیټونو په ستدیوم کې نقلی شامپو، اصلی له میدانه وویستله اود وینښتو په رژولو کې یې لومړئ مقام په بډه وواهه.

زمور سپورتی خبریال د لوبې د نتیجې په باب وویل:

- اصلی شامپو به چې پخوا د یو تن استعمالوونکی د سر وینښتان په یو ځل استعمالولو سره د ورځې دوه سوه تاره ویستل، اوس نقلی شامپو په یو ځل استعمال سره دوه زره وینښته رژوی. چې په دې ډول د لومړی مقام ګټونکې شوه.

شپږمه لـــوبه

جـادو یا ســتـرگـې تړل چې دری ژبه کـې چشم بندی ورته وایی، یوه حیرانوونکې لوبه ده چې نن سبا د کرکټ او والیبال په لوبو پښه اړوی. دغه لوبه د بنـار په هره کوڅه او هره هټۍ کې تر سره کیږی، خو په زړه پورې لوبه پرون د تهکال د قصابۍ په یو دکان کې تر سره شوه چې زمونږ بنـاری خبریال سرګردان باشی ورته ګوته په غاښ پاتې شو.

قصاب په پوره مهارت د یو زاړه او ناروغ اوښ غوښه یو ځل د غوا او بیا د خوسی په نوم وپلورله. او د حیرانۍ وړ هغه وخت وه چې یوې زړې ښځې ته یې د اوزې په نوم کڅوړه کې واچوله. او په دې ډول نومورې قصاب د جادوګرۍ (چشم بندی) ریکارډ ټینګ کړ.

اوومه لوبه

د لستونو څیرولو لوبه د ښار له مشهورو لوبو څخه ده چې د افغانستان له مشهورې لوبې (بزکشۍ) یا وزلوبې سره شباهت لري، په وزلوبه کې بزکشان یا چاپندازان هر یو زیار باسي، څو خوسی د حلال دایرې ته ورسوی.

دلته هم د ښاري بسونو په تم ځایونو کې د بسونو کلینران (چاپندازان) هڅه کوی چې سورلۍ بس (د حلال دایرې) ته ورسوی. په دې زړه بورنوونکې لوبه کې چې د پیښور د باغ ناران، حیات آباد او کارخانو د لینونو د کلینرانو ترمنځ روانه وه، د کارخانو د لین کلینرانو د یو تن سورلۍ والا دوه لستونې وروسته له زیات کش او ګیر څخه په بیلابیلو بسونو کې د (حلال) دایرې ته ورسول.

که چیرته د سورلۍ والا بل انډیوال د لوبې میدان ته د خپل ملګرې په خاطر نه وای ورداننګلی، نو د لستونو په ځای به د خواره کوتې دواړه لاسونه د لوبې اتلانو د حلال دایرې ته رسولی وو.

اتمه لوبه

هر کال اوړی کې د مچانو او میاشو د کالنی تورنمنت لوبې ترسره کیږی چې تراوسه پورې د مچانو تیم په ورځنیو لوبو او د میاشو تیم د پوډر پاشی د نه کولو په وجه نندارچیانو فکر کاوه چې د میاشو تیم به د لوبو اتل (قهرمان) شی. مګر د توقع خلاف په دواړو تیمونو باندې د ورګو تیم برلاسی تر لاسه کړه.

سرګردان باشی په تمبوانو کې له یو نم جن او زاړه کرایی کور (لوبغالی) څخه خبر راکوی چې ورګو د شپې او ورځې په دواړو لوبو کې خپلو حریفانو ته ماتې ورکړه او په نمجنو کرایی کورونو کې یې مهاجرین څلرویشت ساعته کینولی وو.

نهمه لوبه

د کُشتی کچ (ورستلنگ) لوبه چې وخت ناوخت په یو ټیلتی ستورونو کې د غوږو او بورې (چینی) د ترلاسه کولو په خاطر ترسره کیږی، دزور وهلو یوه زړه بوږنوونکې لوبه ده چې دیر ځله د لوبې د پلوانانو لاس پښې هم پکې ماتیږی.

تیره ورځ د یوی مغازې (ستور) په ستدیوم کې د دکانونو کمیشن کارانو له عامو لوبغاړو څخه میدان وګاټه او د مغازې د څټ له دروازې څخه یې د غوږو پیپونه او د اوږو کڅوړې دکانونو ته ورسولې، له لوبې وروسته عامو لوبغاړو اعتراض کاوه چې په لوبه کې د دوی حق خوړل شوی او ریفری کمیشن کارانو ته نومرې زیاتې ورکړی دی.

لسمه لوبه

د هارنونو لوبه د عمر په لحاظ ډیره ځوانه او معاصره لوبه ده چې په ښارونو کې زیات شمیر مینه وال لري.

په دغه غوږ کښوونکې لوبه کې اورګاډو (ریلونو) تر څو کلونو پورې اتلولي او لومړی مقام ساتلی ؤ، خو کله چې د پیښور - اسلام آاد په لین طیارو (بسونو) د غوږ کښوونکو په ځای غوږ ځیروونکو هارونونو لوبه پیل کړه، نو د اورګاډو اتلولی په شک کې شوه.

زموږ سپورتي خبریال چې د دغو هارنونو له لاسه یې په دواړو غوږونو کې یویو بالښت مالوچ ایښی دی او د بل خبره نه اوري، خو خپله کوي؛ له دغې لوبې نه په دې ډول راپور برابر کړی دی.

د هارنونو لوبې هغه وخت لومړی میدان کې یو زبردست ګول وواهه چې کله د روغتون (هسپتال) ترمخ یو تن لوبغاړی په هارن ورغوی ټینګ کړ او د هسپتال څو تنه بې هوښه ناروغان یې په هوښ راوستل، او څو تنه نور چې په هوښ وو، هغه بې هوښه کړل.

همدا راز د دغې لوبې په ګټلو کې هغو هارنونو هم ډیره ښه لوبه ترسره کړه، کومو چې د سپی د غپا او د ماشوم د ژړا په څیر غږونه لرل.

خو نندارچیان هغه وخت ګوته په غوږ پاتې شول چې کله یې د خره د هونګیدا هارن واوریده، د سرګردان باشی په قول د دغه هارن غږ د خطر په وخت کې له هوایی حملې څخه د بچ کیدو د آلارم له غږ نه هم اوچت او ویروونکی ؤ او په دې ډول د هارنونو د لوبې اتل وبلل شو.

یو ولسمه لوبه

کـه څه هم پنځـه شپږ نسله راپدې خوا د کارخانو او باړې مـارکیټونو پوډریان په لومړی مقام کې پلتې وهلی ناست وو، او د یوې سیمې ډله هم د دوی په مقابله کې نه شوای دریدلای، خو په دې وروستیو لوبو کې د صدر بازار د پوډریانو ټیم دغـه میراثی مقام وغځې دود کړ او د کارخانو ټیم ته ئې دریم په مقابل د شپږو کې ماتې ورکړه.

پخوا بـه چې د کارخانو پوډریانو د ورځې دریم پوړی دود کولې، اوس د صدر پوډریان د ورځ شپږ پوړی دودوی او د شمیر له مخی هم د کارخانو په ټیم باندې غښتلی او برلاسی کیږی.

کـه څـه هم د صدر ټیم د سړنیو لوبو په لړ مقام کې ځای لری، خو داسی ګنګوسی هم شتـه چې د شعبـه بازار، خیبر بازار، فردوس او د ګنج د شاو خوا متفرق او خواره واره پوډریان د یو منظم ټیم په جوړلو سره د صدر مقابلی ته د دریدو جوګـه شوی دی. کـه چیرته دا خبره رښتیا وی، نو راتلونکې لوبه بـه ډیره حیرانوونکې او د خاصې پاملرنې وړ وی.

نوټ: د پوډریانو یو نسل دریم کالـه وخت نیسی چې لومړی یو کال یې وړوکوالی، دوهم کال ځوانی او دریم کال د زړښت مرحله ده چې په دې مرحله کې ډیر لږ پوډریان بل کال تـه ژوندی پاتې کیږی.

دولسمه لـوبه

د بلونو لوبه چې د ښار له مشهورو لوبو څخه ده د ګیس (ګاز) له ټیم څخه د بریښنا (واپډا) ټیم د تخرګ په جیب کې ومنډله.

زمور سپورتی خبریال سرګردان باشی وایی چې د واپډا د ټیم غړو په پټو ستر ګو، بې له دې چې میترونه ولولی، له اصلی مصرف څخه زیات د کورونو بلونه په خپلو دفترونو کې ولیکل او د ګیس له ټیم څخه یې لوبه وګټله.

خبریال زیاتوی چې له دې حیرانوونکې ماتې وروسته، اوس د ګیس ټیم د ژمنی تورنمنټ لپاره تیاری نیسی، څو له خپلو حریفانو څخه د اوړی د تورنمنټ غچ واخلی.

دیارلسمه لوبه

نڅا ډیره لرغونې او پخوانۍ لوبه ده چې انسانانو به د ډول، ډول حرکتونو په ترسره کولو سره خپل احساسات بنودل او لیدونکو به ورځنې خوند اخیست. خو د ساسچ او همبرګر په زمانه کې نڅا ته جمناستیکي حرکاتو مخه کړه او د یخ (واوري) پر مخ د نڅا یو سپورتي ډول یې رامنځ ته شو.

د یخ پر مخ نڅا یوازې په ډیرو مدرنو او عصري ستدیومونو کې چې د سړولو مخصوص سیستمونه لري ترسره کیږي. خو د دغه ډول سپورتي نڅا یوه بله ځانګړه د سړکونو او پلي لارو پر سر نڅا ده چې د کیلې د پوستکي په وسیله

یې نڅا کوونکی سرته رسوی. د یخ پر مخ نڅا خپل ځانګړی نڅا کوونکی لري خو د سړکونو او پلی لارو پر سر نڅا کوونکی آماتور نڅا کوونکی دی چې بی له ساز او سرود څخه د لارویانو د خندا او کنایو په ویلو بدرګه کیږی.

په دې هیجانی او زړه بوږنونکې نڅا کې ډیر ځله د نڅا کوونکی پښې، مرکنډی او ورمیږونه هم ماتیږی، خو له دغو ټولو خطرونو سره، سره یې نن سبا د پیښور په ښاری ستدیوم کې بازار ګرم دی او حتی په دې راوروسته وختونو کې یې د یخ (واوری) پر مخ له نڅا کوونکی ټیم څخه لوبه په څو چور لکونو سره والوزوله.

زمونږ ښاری خبریال سرګردان باشی د پیښور ښار د قصه خوانی بازار له پلی لارې نه راپور راکوی چې یو تن لاروی د کیلی له خوږلو نه وروسته د کیلې پوستکی د عامې لاری پر سر وغورځول او په هماغه شیبه کې د آماتور نڅا کوونکو یو ټیم چې یوه زړه ښادری والا ښځه، یو ځوان او یو سپین ږیری یې غړی وو د دغو پوستکو په سر داسې چورلکونه وخوړل چې د یخ پر مخ یو نڅا کوونکی هم تر اوسه دومره په تیزی څرخ نه دئ وهلی. که څه هم لوبه د یخ پر مخ د نڅا له ټیم څخه د کیلی په پوستکی د نڅا ټیم وګټله، خو د ټیم سپین ږیری کپتان او څادری والا ښځه په زنبیلونو کې روغتون (هسپتال) ته ورسول شول.

څوارلسمه لوبه

په ښاري او لینی بسونو کې د چرسو، پوډرو، سګرټو او نسوارو د استعمال په لوبه کې چې بیلابیلو ټیمونو برخه پکې لرله د پیښور - اسلام آباد د لین بسونو ټیم لومړۍ مقام لوګی کړ.

که څه هم نندارې چیان د لوبې په لومړي میدان کې د پیښور د ښاري بسونو په ټیم باوري وو چې د لوبې ګټونکی به شي، ځکه چې په دغو بسونو کې د سګرټو، نسوارو او حتی د پوډرو استعمال د ښار له سینماګانو هم میدان ګټلی ؤ. خو په دوهم میدان کې په ناڅاپي ډول د پیښور - اسلام آباد د لینی بسونو د چرسیانو ټیم لوبه یووړه. که څه هم دغه ناڅاپي بری نندارې کوونکی حیران کړل، خو دغه حیرانی او شک هغه وخت له منځه لاړ چې کله دوی وپوهیدل چې لوبې ته د بسونو ډریوران او کلینران هم داخل شوی وو.

پنځه لسمه لوبه

په پلی لارو کې دریږو د فوتبال لوبه چې په هغو کې د دکانونو د سودا او کریټونو اینښودل هم شامل دی، د پولیسو، ریږووالا وو او دکاندرانو ترمنځ په دې دول پای ته ورسیده:

په لومړی دور کې د پولیسو ټیم ریږه والاوو ته په لومړی شوټ وهلو ماتې ورکړه او له پلی لارې څخه یې وویستل، خو په دوهم دور کې د دوکانونو مالکانو پولیسو ته ماتې ورکړه او پنځه مترہ یې عامې لارې ته د خپلو دکانونو سودا راویسته.

زمونږ سپورتی خبریال زیاتوی چې په دوهم دور کې د پولیسو د ټیم ځینو غړو له دکاندرانو سره سازش کړی ؤ او لوبه یې قصدی بایلوده او مساوی پای ته ورسیده.

شپاړسمه لوبه

نن سبا وسله گرځول یوه نمایشی لوبه ده چې د ځینو تیمونو غړی له تمانچې سره په څنګ کې ماشین ګنې هم ګرځوی. دغه لوبه چې پخوا د ملکانو او خانانو تر منځ روانه وه او په کلیو کې به دغو دوه تیمونو یو له بل سره وخت ناوخت لوبې ترسره کولې، خو په دې راوروسته وختونو کې د بنوونځیو (سکولونو) او پوهنتونونو (یونیورستیو) وسله وال تیمونه هم د لوبې میدان ته راووتل او د کتابونو په ځای یې وسلې ګرځول د ورځنی تقسیم اوقات (تایم ټیبل) جز شو.

سرګردان باشی خبر راکوی چې څو ورځې دمخه د یو کالج طالب علمانو د کالج په دننه کې تمانچې راوویستی او په دله ایزه توګه یې یو په بل باندې د ډزو لوبه سرته ورسوله. په دې لوبه کې دواړه فریق تیمونه یو له بل سره مساوی شول ځکه چې له هر تیم څخه درې، درې تنه په ګولیو لګیدلی وو.

زمونږ سپورتي خبریال زیاتوی چې د کالجیانو تیم لوبه د ملکانو او خانانو له تیم نه وګټله، خو د فاینل په لوبو کې به د یونیورستي له تیم سره پنجه نرموی، مالومه شي چې په وروستیو لوبو کې به د اتلولي کپ کوم تیم تر لاسه کړی.

اووه لسمه لوبه

د توپ وهلو په هغه لوبه کې چې له روان بس څخه ترسره شوه یو تن سپین
ږیری لوبغاړی، څوارلس لوبغاړي ته ماتې ورکړه او د بس له دروازې څخه یې پنځه
متره توپ وواهه. دغه سپین ږیری اتل لوبغاړی چې د توپ وهلو په وخت کې
یې پښه دوه ځایه ماته وه، په هسپتال کې له داخلیدو وروسته مالومه شوه چې
په خپله یې نه دی توپ کړی او د بس کلینر پورې وهلی ؤ، خو دا سپیناوی هغه
وخت وشو چې سپین ږیری اتل د انلوالی کپ لاړ مخه په بیه وهلی ؤ.

اتلسمه لوبه

هسې خو په باسی او له وخت نه تیرو خورو په وراندی کولو کې هوتلونه، رستورانونه او سماوارونه نړیوال شهرت لری. او د دغه شهرت آوازې کیدلی شی چې د مصنوعی سپوږمیو په وسیله د مریخ کرې ته هم رسیدلې وی.

خو په دې راوروسته کې چې د باسی او پاتې شویو خورو په برخه کې د هوتلونو ترمنځ کومه مسابقه پیل شوې په هغې کې یو شمیر هوتلونه فاینل ته ووتل. سرګردان باشی د خپل سپورتی راپورتاژ په یوه برخه کې وایی:

- هغه هوتلونه چې تر دې میاشتو پورې باسی او پاتې شوی خواړه یې لرل، د لوبې په لومړی دور کې له میدان نه ووتل. په نورو دورونو کې چې کومې لوبې تر سره شوی، په هغو کې داسې ټیمونه ته د فاینل د لوبو چانس ورکړل شو چې په خپلو هوتلونو کې یې د مراجعینو لپاره کم له کمه یو کلن باسی او له وخت نه تیر خواړه لرل. دغه راز سرګردان باشی چې په ځینو زړو هوتلونو کې داسې ټیمونه هم په مسابقه کې ګډون لری چې په پخو شویو دیګونو کې یې د هغه وخت شوروا او باسی خواړه شته چې انګریزان لا له دې ځایه نه وو وتلی.

د دغو زړو هوتلونو د ټیم کپتان وویل:

- له هماغه وخت څخه چې د کوم دیګ خواړه پاتې شوی دی، هغه د سبا په دیګ، او د سبانی دیګ خواړه د بلې ورځې په دیګ کې ګډ شوی چې همدا اوس زموږ د هوتل په پاخه شوی دیګ کې شپږ میاشتنه کلن باسی او زاړه خواړه د مراجعینو له کولو سره د ملاقات انتظار باسی.

نولسمه لوبه

د موټر ځغلولو هغه لوبه چې د پیښور - اسلام آباد تر منځ لاره کې د فلاینګ کوچ او لینی بس ترمنځ سرته ورسیده ، فلاینګ کوچ لوبه والوزوله او د ستر ګو په رپ کې یې خپلې سورلی له دې دنیا نه بلې دنیا ته ورسولې.

شلمه لوبه

هغه لوبه چې له ډیرې مودې را په دې خوا د بورډ او ډبګرۍ ډاکترانو ترمنځ روانه وه ورمه ورځ مساوي پای ته ورسیده، زمور ښاري خبریال سرګردان باشي وایي چې هو تن والګي وهلی د ډبګرۍ ډاکترانو وروسته له هغې چې درې سوه روپۍ فیس یې د لوبې ډګر ته د داخلیدو په وخت ترې واخیست، بیا یې د وینې، ادرار، غایطه موادو معاینات پرې بشپړ کړل او وروسته له هغې چې څو بیلا بیل فوټو ګانې یې پرې واخیستل او د زړه ګراف یې بشپړ شو، یو پنډ دارو ګان یې هم ورپه شا کړل.

کله چې همدغسې یو ناروغ د بورډ د ډاکترانو لوبغالی ته ور داخل شو، نو وار له واړه ډاکټر د اتلس ډوله بیلابیلو دارو ګانو پنډ ورته وتاړه. وروسته دواړه ناروغان له ټرل شویو پنډونو سره تر کوره پورې د مندې لوبې ته راووتل، خو یو هم په دې برېالی نه شو چې لوبه وګټي، ځکه چې دواړه په لاره کې وپرځیدل.

او په دې دول لوبه مساوي پای ته ورسیده، خو سرګردان باشي زیاتوي چې دغه دواړه تیمونه راتلونکو لوبو ته بیا تیاری نیسي او وروستۍ نتیجه به یې د اوړي په تورنمنټ کې چې د اسهالاتو موسم دی، مالومیږي.

یو ویشتمه لوبه

د پیښور - اسلام آباد ترمنځ چې د ریل د سپرلیو اود پلی مسافرو د تیم ترمنځ کومه مسابقه پیل شوې وه، پلی کمیان د ریل (اورګادی) څخه ده مخه اسلام آباد ته ورسیدل او د لوبې ګټونکی شول.

د لوبې نندارچیان وایی چې په لومړی روند کې د پیښور له سټیشن څخه تر پیر ستیشن پورې د اورګادی د سپرلیو تیم په پلی تیم باندې پیشقدمی وکړه، خو د نوښار په ستیشن کې د پلی تیم غړي وروسره غبرګ شول او له هغې وروسته ستیشن په ستیشن د پلي ګروپ لیږي زیاتیدلې، څو د مسابقې په پای کې له تاکلی وخت څخه دمخه وروستی تم ځای (اسلام آباد) ته ورسیدل.

کله چې د ریل د سپرلیو د تیم له یو تن غړي څخه پوښتنه وشوه، هغه ټوله پره د ریل په عمله واچوله، ځکه چې په هر ستیشن (سټاپ) باندې یې یو، یو ساعت توقف کاوه.

دوه ویشتمه لوبه

د مجرمینو له تیم سره د مسابقی لپاره چې د پولیسو د بیلا بیلو تانو له خوا کومی مسابقې پیل شوې وې، ورمه ورځ مساوی پای ته ورسیدې. په دغو خیل منځې مسابقو کې د دوه تانو تیمونه د یو مجرم په نیولو کې دایمې وخت سره مخامخ شول چې مجرم د دواړو تانو د پیل او پای په حدودو کې جرم ترسره کړئ.

کله چې د لومړي تیم غړی د مجرم نیولو ته راورسیدل او غوښتل یې هغه د خپلې تانې په ګټه ګول کړی، د دوهم او حریف تیم غړی ورته په مخه کې سپر شول او دعوه یې لرله چې مجرم زمونږ د تانې په حدودو کې جرم ترسره کړی دی او د مقابل تیم غړی یې ګول کولو ته پرې نه ښودل.

ددغو دوه تیمونو ترمنځ د حدودو په سر دعوه کې مجرم په موقع پښې سپکې کړی او دغه دوه تیمونه یې سره لاس او ګریوان پرېښودل.

درویشتمه لوبه

له کوم وخت نه را پدې خوا چې په بنار کې د لوګی د خپرولو لوبه پیل شوې ده، رکشاګانو او طیارو (بناری بسونو) وخت په وخت یو له بل نه د خپلې پیشقدمۍ ثبوتونه تر لاسه کړی دی، خو په دې وروستیو لوبو کې رکشاګانو لوبه والوزولې او د لوګی په خپرولو کې یې لومړی مقام په ټول بکس کې واچاوه.

لوبه چې رکشاګانو په ګوهاټی او مینا بازار کې پیل کړې وه او طیارو په جی تی روډ. پایښې بدو هلې وې، رکشاګانو په یو ساعت کې دومره لوګی جوړ کړ چې د بنار په کوڅو کې له دوه مترو هاخوا څمکه نه لیدل کیده، او په دې دول د لوبې ګټونکی شول.

څلرویشتمه لوبه

د تازه میوې اخستونکو او پلورونکو تر منځ لوبې چې پخوا پیل شوې وې تر اوسه لا کومې غوڅې نتیجې ته نه دی رسیدلې.

سرګردان باشي چې د دغو لوبو ډګر څخه د راپورتاژ برابرولو په حال کې دئ، زموږ د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل:

- د تازه میوې خرڅوونکي چې د خرابه میوې په تیرولو کې ځانګړې مهارت لري، تر دې حده په لوبه کې وړاندې دی چې په یو درجن کینو کې تر لسو پورې خرابې او خُسا کینو تیرولی شي.

کله چې له سرګردان باشي نه دلوبې داحتمالي اتل پوښتنه وشوه، نو هغه وویل:

- ځینې کسان وایي چې د ښار په ځینو برخو کې داسې میوه پلورونکي شته چې په یوه درجن کې پوره یوه درجن خرابې کینو تیروي، خو دا دول میوه پلورونکي لا د فاینل لوبو ته نه دی راوتلي او همدا سبب دئ چې د اتلولۍ کپ د ګټونکي انتظار باسي.

پنځه ویشتمه لوبه

د سګرټ څکولو هغه لوبه چې د دفترونو ، هسپتالونو ، سینماګانو او په بسونو کې د سګرټ څکوونکو تر منځ روانه وه ، د سینماګانو او بسونو ټیمونه د لوبې فاینل ته ووتل.

دغه دوه ټیمونه چې یو دبل سره سخت حریفان دي زیار باسي څو د اتلولۍ (قهرمانۍ) کپ تر لاسه کړي ، خو دا به له وخت څخه د مخه وي چې له دې دوه ټیمونو څخه د یوه د بري ذکر وکړو ، ځکه چې دواړه ټیمونه ډیر غښتلي لوبغاړي لري.

شپږ ویشتمه لوبه

د مندې هغه لوبه چې د لنډې کوتل او کارخانو ترمنځ د قاچاقی بایسکلونو او موټرونو ترمنځ روانه وه، د بایسکل ځغلولو ټیم د فلاینګ کوچونو ټیم ته ماتې ورکړه.

که څه هم د لوبې په لومړی میدان کې یو فلاینګ کوچ له مقابل لوری نه راروان بس سره ټنده ووهله، خو له دې وارخطایی سره، سره ځینو نندارچیانو داسې فکر کاوه چې فلاینګ کوچونه به لوبه وګټي، خو قاچاقی بایسکلونه د کارخانو مارکیټ ته له هغوی څخه دمخه راورسیدل.

اوویشتمه لوبه

د یو بل خبر له مخې چې همدا اوس ستړی او ستومانه راورسیده د لارویانو سړو (ششونو) ته د آبدرې او پاوکې په روډونو باندې د آسونو دفضله موادو د رسولو په لوبه کې د آبدرې روډ لومړنۍ مقام لوټ کړ.

په دغو دوه روډونو باندې هره ورځ څو خروارې د آسونو فضله مواد یا ناولتوب شیندل کیږي چې وروسته د موټرونو (ګاډو) په مرسته هغه د لارویانو سړو ته ځان رسوي.

زمور ښاري خبریال د عینی شاهدانو له قوله وایي چې:

- دغه لوبه که په همدې ډول دوام ومومي، نو ډیر ژر به په دې دوه لارو باندې د تلونکو لارویانو له سړو نه غوجلې جوړې شي.

اته ویشتمه لوبه

د جیبونو د لوټلو هغه لوبه چې د ښار د حکیمانو له خوا د مردانه کمزورۍ او بواسیرو د ختمولو په نوم روانه وه تر اوسه کومې نتیجې ته نه ده رسیدلې.

زمونږ ښاری خبریال چې د لوبې د راپورتاژ لپاره ستدیوم ته تللی ؤ د لوبې اشتهارونو دومره تر تاثیر لاندې راوستلی ؤ چې یوه اونۍ یې د راپورتاژ په ځای معجون خولې ته اچاوه.

خو د عینی شاهدانو له قوله په دغه توده لوبه کې چې نن سبا د ښار په هره کوڅه کې روانه ده، بې شمیره لوبغاړی برخه لری او ډیره به ګرانه وی چې نتیجه یې په آسانۍ تر لاسه شی.

نهه ویشتمه لوبه

د بنیادمو او چرګانو ترمنځ هغه اوږده لوبه چې له آدمه تر دې دمه روانه وه، په دې وختونو کې چرګانو له انسانانو والوځوله او د لوبې اتلان شول.

سرګردان باشی ددې لوبو د راپورتاژ په یوه برخه کې وایی:

- پخوا به بنیادمو د چرګانو غوښې خوړې، خو اوس چرګان د بنیادمو هډوکې خوری او په دې ډول لوبه د چرکانو په ګټه پای ته ورسیده.

د یرشمه لوبه

د خوسی لوبه چې د دوه لسیزو راهیسی په افغانستان کې روانه ده تر اوسه لا په پوره شدت سره دوام لری، خو ګټونکی پکې مالوم نه دی.

دا لوبه په دې ډول ده چې هر لوبغاړی یوه پښه له ځمکې جګه تر څټ نیسی او په یوه پښه او یو لاس باندی له مقابل لوری سره مقابله کوی.

پخوا به دغه لوبه ماشومانو کوله، خو په دې دوه لسیزو کې بې شمیره ځوانان او د پاخه عمر خاوندان هم په لوبه ورګډ شوی دی.

تر اوسه د لکونو په شمیر لوبغاړی (ګډوان) د لوبو د بیلابیلو تیمونو غړی دی چې ځینی تیمونه یې دلته د پیښور په ستدیوم کې هم لوبې تر سره کوی. او که همدا ډول دوام وکړی، نو لیرې نه ده چې د افغانستان ټول اوسیدونکی د خوسی د لوبو غړی شی، ځکه چې د ګډوانو شمیر ورځ په ورځ زیاتیږی او مقابله لا هماغسې روانه ده.

یو دیرشمه لوبه

د لوړ توپ وهلو هغه لوبه چې د ښار په ستدیوم کې د بیلا بیلو اجناسو ترمنځ روانه و او ګټونکی یې مالوم نه ؤ، په دې وروستیو ورځو کې غوږیو دغه لوبه غوره او نرمه تر ستونی تیره کړه او میدان یې وګاټه.

که څه هم کتونکو فکر کاوه چې بوره (چینی) به کپ تر لاسه کړی، خو غوږیو چې کله په یو پیپ کې (۱۵۰) روپی جګ توپ وواهه، دغه تصورات او خیالات یې په اوبو لاهو کړل.

دوه دیرشمه لوبه

له ښونځیو (سکولونو) څخه د شاګردانود تیښتی لوبه چې د سینما ګانو
د تیم او د ویدیو ګیمونو د تیم ترمنځ د ښار په ستدیوم کې پیل شوی و
ویدیو ګیمونو بری تر لاسه کړ.

سرګردان باشی چې څه موده ددې لوبو د راپورتاژ په برابرولو بوخت و
زیاتوی چې له دې لوبې څخه یو شمیر ماشومان د چرسو او پوډرو د لوبې ف
ته هم ووتل.

دری دیرشمه لوبه

د چای له ونی جوړ شوی چای اود توتانو د پانو او نورو ونو او بوټو د پانو د چای ترمنځ لوبه چې د رنګ په ویستلو کې پیل شوې وه، د توتانو د پانو چای لومړی مقام چاینک ته واچاوه.

زمور د ښاری خبریال په قول د توتانو او نورو ونو د وچو پانو چای ځکه لومړی مقام وګاټه چې رنګ یې تر نورو سور او اخستونکی یې تر نورو ډیر وو.

همدا راز زمور خبریال د ځینو عینی شاهدانو له قوله زیاتوی چې د توتانو د پانو له چای سره د قصابانو تیم مرسته کړې ده اود میښنو د وینې په ګډولو سره دغه لومړی مقام ورپه برخه شو.

څلورد یرشمه لوبه

د اډوانسونو لوبه چې د سرقُلفی له لوبې سره ډیر لږ توپیر لری، د پیښور ښار له ډیرو مشهورو لوبو څخه ده.

دغه لوبه چې فاینل ته پکې یوازې دوه ټیمونه (د کورونو د خاوندانو او کرایه نشینو ټیمونه) راوتلی دی، په پوره شور او زور (غوږ) روانه ده.

سرګردان باشی د لوبې له ډګر څخه خبر راکوی چې لوبې خپل انډول له لاسه ورکړی دی، ځکه چې د کورونو د خاوندانو ټیم چې غړی یې له حسابه وتلی دی لوبی ته دوام ورکوی.

دغه راز سرګردان باشی د عینی شاهدانو له قوله وایی چې له پورته ذکر شوې نا انډولی سره، سره د کورونو د خاوندانو ټیم د لوبې ګټونکی بریښی، ځکه چې د ستدیوم په کونج کې یو تن کوروالا خپله ختینه کواټره باندې د کرایه نشینو د ټیم له یو تن بد مرغه لوبغاړی څخه پنځوس زره روپی اډوانس د تخرګ په جیب کی واچاوه.

پنځه دیرشمه لوبه

د مکروبونو (جراثیمو) د خپرولو هغه لوبه چې د چولې پلورونکو او د ګنیو د شربت د تیمونو ترمنځ روانه ده، فکر کیږي چې مساوی به پای ته ورسیږي. د هغو رپوټونو په اساس چې د ښار د هسپتالونو نه تر لاسه شوی دی، تر اوسه د داخل بستر ناروغانو شمیر چې د دواړو تیمونو په وسیله هلته لیږل شوی، مساوی دی.

د دی لپاره چې اصلی ګټونکی مالوم شی، هیله ده چې د اوږی تر پایه پورې انتظار وباسی.

شپږد یرشمه لوبه

د پلاستیکی کڅوړو (شاپنګ بیګ) لوبه د چاپیریال (ماحول) د ککړتیا لپاره یوه معاصره لوبه ده چې له هغې نیولې بیا تر توکرۍ پلورونکی پورې د هر ډول متاع د انتقال لپاره تری کار اخیستل کیږی.

کله چې تیل پلورونکو او مستې پلورونکو د تیلو او مستو د انتقال لپاره په یوه مسابقه کې کار ترې واخیست لوبه مساوی پای ته ورسیده، خو له هغه وخت نه بیا تر اوسه په هره کوڅه کې د غه لوبه په پوره شدت روانه وی، خو اتل یې لا نه ؤ مالوم شوی.

کله چې د پیښور په بازار کې د اوړو قحطی شوه او ځینو خوش چانسه لوبغاړو په پلاستیکی کڅوړو کې اوړه کورونو ته یووړل، فکر کیده چې لوبه همدغه تیم وګټله، خو تیره ورځ د بازار په ستدویوم کې ولیدل شول چې یو تن لوبغاړی د خپلو څارویو لپاره په پلاستیکی کڅوړه (شاپنګ پیګ) کې بوس اچولی دی او په دې ډول د وښو انتقالولو تیم لوبه په خپله ګټه انتقال کړه.

اووه د یرشمه لوبه

له څو کلونو را پدې خوا د جراحی (سرجری) ډاکترانو او قصابانو ترمنځ لوبه کې ډاکترانو له قصابانو نه د لوبې میدان ګټلی ؤ، خو د اتلولی په وروستیو لوبو کې چې د اپریشن (عملیات) په برخه کې د ښار د جیب وهونکو (کیسه برانو) او جراحې د ډاکترانو ترمنځ وشوې، د ښار جیب وهونکو وکړای شول چې په څو ثانیو کې د اپنډکس او چورې اپریشن ترسره کړی. سړګردان باشی چې د لوبې نندارې کوونکی ؤ په دې برخه کې د ستر ګو لیدلی حال داسې بیانوی:

- ما په پلو ګناهګارو ستر ګو ولیدل چې یو تن جیب وهونکی په ښاری بس کې د چورې د ناروغ بریالی عملیات (اپریشن) ترسره کړ، او همدا رازمی په بل بس کې ولیدل چې د یوتن سپرلی (سورلی) د څنګ جیب په غوڅولو سره یې د هغه د اپندکس اپریشن وکړ.

ژوری هیئت یا حکم ګروپ له یو لړ بحث وروسته د لوبې کپ د ښار جیب وهونکو ته په دې خاطر ورکړ چې د دې ډول عملیاتونو (اپریشن) لپاره ناروغان د پیسو له مصرف پرته په هفتو، هفتو د روغتونونو (هسپتالونو) او د ډاکترانو په کتنځیو کې انتظار باسی څو د دوی عملیات ترسره شی، خو جیب وهونکی دغه ډول عملیات بی د وخت له ضایع کولو ترسره کوی.

اته د یرشمه لوبه

لکه څنګه چې اوړی ګرم وی، همدا شان په دغه موسم کې د لامبو وهلو بازار ګرم وی. دغه لامبو وهل د سمندرونو په غاړو، سیندونو، خوړونو، ویالو او ډنډونو کې تر سره کیږی، خو د پیښور د ښار په ستدیوم کې سږ کال د بریښنا (بجلی) د پر جاوی (لوډشیډنګ) په وخت کې د صدر د سیمې له اوسیدونکو څخه د تهکال تیم لوبه وګټله؛ ځکه چې د تهکال اوسیدونکو د هرې ورځې لوډشیډنګ له کبله څو څو ځله د اوبو په ځای خپلو خولو کې ولامبل او په دې ډول د لامبو وهلو د لوبو ګټونکی شول.

نه د یرشم لوبه

د رنګونو رنګینه او په زړه پورې لوبه چې د شرقی لوبو په سر فهرست کې راځی له ډیرې مودې را هیسې د پیښور ښار د رنګریزانو او خوږو (شیرینی) جوړوونکو د تیمونو ترمنځ روانه وه.

هغه وخت چې په پاپړو او د جوسونو په نوم د ویالی په اوبو کې رنګونه واچول شول، نو نندارچیانو فکر کاوه چې لوبه ګنی د رنګریزانو نه مقابل تیم والوزوله، خو وروسته چې رنګریزانو خامتا او پوزی (انډیری) ته هم سره او شنه رنګونه ورکړل نو بیرته د خوږو له تیم سره مساوی شو.

اوس چې د خوږو تیم له چاکلیتو او پتاسو پرته په تروو او پیکه خوږو کې هم رنګونه ګډ کړ، په دغه لوبه کې ګټونکی شول.

څلویښتمه لوبه

د یو تازه خبر له مخې چې همدا اوس راورسیده، د ژیو زده کولو کومه لوبه چې د پیښور په ښار کې د کورسونو د بیلا بیلو ټیمونو تر منځ روانه وه په پای کې میدان ګونګیانو وګاټه.

کله چې په دې باب له سرګردان باشي نه پوښتنه وشوه، نو هغه وویل:

– د کورسونو له لارې هیڅوا هم ژبه زده نه کړه او ګونګیان ځکه په ګټه کې دي چې د کورسونو د فیس له تاوان نه بچ دي.

یو څلویښتمه لوبه

د دیوالونو له پاسه د اعلانونو لیکلو لوبه د ښار له ډیرو په زړه پورې لوبو څخه ده. په دغه لوبه کې په لس ګونو ټیمونو برخه درلوده، خو فاینل ته یوازې د نجومیانو، د بواسیرو او مردانه کمزورۍ حکیمانو، سګرټو او غیرې الکولي مشروباتو ټیمونه ووتل. په دغو ټیمونو کې د نجومیانو او حکیمانو ټیمونه د اتلولۍ لوبې ته پاتې شول چې په پای کې د حکیمانو ټیم لوبه په لنګړۍ (آونګ) کې وټکوله او دغه ګټل شوی معجون یې خولې ته واچاوه.

زمور خبریال سرګردان باشي وایي چې د حکیمانو د ټیم برخې په دې کې ؤ چې له دیوالونو برسیره یې په چاپې کاغذونو کې هم د بواسیرو او مردانه کمزورۍ اعلانونه ولیکل او د ښار په ستدیوم کې یې په هر باسواده او بې سواده باندې وویشل.

دوه څلوینبتمه لوبه

د پینبور په ښار کې چې د شخصی ګټې په خاطر د جیبونو د ډکولو لوبه د اینجو (NGO) ګانو او د مکتبونو او کورسونو د ټیمونو تر منځ روانه وه، په دې وروستیو وختونو کې یوازی دوه ټیمونه چې د مکتبونو او کورسونو ټیمونه دی د لوبې فاینل ته ووتل. د غه دوه ټیمونه په لومړی دور کې مساوی وو، خو د کورسونو ټیم ددوی په اصطلاح په بیلا بیلو څانګو کې د تخصص د کورسونو په راویستلو سره د مکتبونو (ښوونځیو) پر ټیم د بری په حال کې دئ. په هر صورت، وبه ګورو چې لوبه د چا په ګټه تمامیږی.

دری څلویښتمه لوبه

د اوبو ګډولو کومه لوبه چې د تیلو او شیدو د تیمونو ترمنځ پیل شوی وه، د شیدو تیم د لوبې کپ خپل باتلی ته واچاوه او لومړی مقام یې وګاټه.

د لوبې په لومړی دور کې دواړه تیمونه مساوي روان وو، ځکه چې د هر تیم غړو نیم په نیمه په تیلو او شیدو کې اوبه ګډولې، خو په دوهم دور کې د شیدو د تیم غړو په پوره مهارت سره، وکړای شول چې په یوه لوټه شیدو کې لس لوټې اوبه ګډې کړي او په دې ډول یې د تیلو تیم له ماتې سره مخامخ کړ.

څلور څلویښتمه لوبه

د تازه میوی (فروټ) او رومي بانجانو (تماټرو) د سورت کولو او په کریټونو کې د ځای په ځای کولو لوبه چې خُسا میوې او خُسا رومیان په اخستونکو تیروی د کابل د میوې سورت کولو ټیم او د پیښور د تماټرو د ټیم ترمنځ لوبه په تله کې یو برابر وختله او سره مساوی شول.

سرګردان باشي وایي چې د پیښور د تماټرو د ټیم غړو د کریټ په وسیله یو کیلو تماټر په اتیا (۸۰) روپۍ په داسې وخت کې خرڅ کړل چې په بازار کې د یو کیلو تماټرو بیه لس روپۍ وه. هغه چا چې دغه کریټ یې خپل کور ته وړی ؤ، سرګردان باشي ته وویل چې ده په ټول کریټ کې یو کیلو ورځنې سلامت تر لاسه کړل او نور یې په کوڅه کې وغورځول.

همدا راز د کابل د انګورو د سورت کولو ټیم یو کیلو انګور د کریټ په وسیله پوره اتیا زره افغانۍ باندی تیر کړل، حال دا چې په همدې وخت کې د یو کیلو انګورو بیه څلور زره افغانۍ وه.

عینی شاهدان وایي چې د دغه ټیم غړو د انګورو پانې، هرزه وانبه او خُسا انګور په کریټ کې په داسې ماهرانه ډول سورت کړی وو چې اخستونکی ورته ګوته په غاښ پاتې شول.



PROPERTY OF ACKU 7017

د لیکوال چاپ شوی آثار:

۱- د شکایاتو صندوق	طنز داستانونه
۲- مدیر صیب په خط خو به پوهیږی؟	طنز داستانونه
۳- د کارسیالی	طنز داستانونه
٤- پندونه او خوندونه	واړه طنزونه
٥- د بنجاره هتی	واړه طنزونه
٦- دولتی موټر	همدغه اثر
۷- سړئ څنګه بنځه شو؟	طنز داستانونه
۸- دیګونه او شعرونه	طنزی نظمونه
۹- د بنار په ستدیوم کی- په پیښور کی د مهاجرت د وخت طنزونه	

هغه آثار چې دانش کتابخانی خپاره کړی

۱- سفر ها و خاطره ها -	حامد علمی
۲- ارتش سرخ در افغانستان -	گروموف
۳- رجال و رویداد های تاریخی افغانستان -	احمد علی کهزاد
٤- در زوایای تاریخ معاصر افغانستان-	احمد علی کهزاد
٥- احمد شاه بابا افغان -	میر غلام محمد غبار
٦- افغانستان در طلسم دایره شیطانی -	داکتر سید عبدالله کاظم
۷- مزارات شهر کابل-	محمد ابراهیم «خلیل»
۸- ضرب المثل های افغانی -	میرپور
۹- شب های آوارگی -	خلیل الله خلیلی
۱۰- لیکوالۍ املاء انشاء-	گل پاچا الفت
۱۱- سوځیدلی جنت -	شهرت ننگیال
۱۲- سری لښکری په افغانستان کې-	گروموف د داود جنبش پښتو ترجمه
۱۳- چنار خبری کوی-	د پیر محمد کاروان د شعرونو مجموعه
۱٤- بدیع او پښتو شعر -	اورنگ زیب ارشاد
۱٥- مساپر -	د اکبر بری د شعرونو مجموعه
۱٦- نومیالی غازی-	اورنگ زیب ارشاد
۱۷- ژوری خبری -	میرزا علم حمیدی
۱۸- د پښتنو بغاوت -	ووسنام ملز- د داکتر خالق زیار پښتو ترجمه
۱۹- ادبی لیکونه -	پوهاند صدیق الله رښتین
۲۰- د لیکوالۍ فن-	سیدمحی الدین هاشمی
۲۱- دوه مخی کسان (طنزونه)	میرزا علم حمیدی
۲۲- وری څنگه لیوه شوه (طنزونه)	میرزا علم حمیدی ترجمه
۲۳- پندونه او خوندونه (طنزونه)	کاتب پاڅون
۲٤- د بنجاره هتی (طنزونه)	کاتب پاڅون
۲٥- دولتی موټر (طنزونه)	کاتب پاڅون
۲٦- د ښار په استدیوم کې (طنزونه)	کاتب پاڅون
۲۷- دیگونه او شعرونه (طنزیه نظمونه)	کاتب پاڅون
۲۸- سړی څنگه ښځه شوه ؟ (طنزونه)	کاتب پاڅون

دانش کتابخانه: دهکی نعلبندی، قصه خوانی بازار، پشاور

Kateb Pasun

IN THE CITY STADIUM

A Collection of Satirical Games

1997
Danish Book store, Peshawar